د "ويښ زلمي" ملي مترقي نهضت

ويارلى غړى

غلام جيلاني خان الكوزى

pashtoon.net / pashtun.info September 2017

غلام جیلانی خان الکوزی د کندهار د ښار اوسیدونکی دی، ابتدائی تعلیم ئی په کندهار کی کړی دی. او په ۱۹۲۵ کی د تلګراف د ښونځی څخه

فارغ او د کندهار په تلګراف خانه کی په خدمت پیل وکی، او په ۱۹۳۵م کی د فراه د تلګراف خانی د منتظم په ډول مقرر شو، کله چی بیرته کندهار ته راغی نو د یو ډیر شمیر متعلیمنو په تدریس بوخت شو چی د تلګراف درس ورته وه وای.

په ۱۹٤۱م کی ده کوشش وکی چی د تلګراف د مسلک څخه ځان گوښه کی، په دی خاطر چی کابل ته ورغی نو هلته د ویښ ځلمو د تحریک خبری د کابل په روشنفکرانو کی شروع وی، چی ده هم په هغه غونډو کی گډون کاوه.

څرنگه چی دی کابل ته د خپل مسلک څخه د پریښودو په خاطر تللی وو او هغه هلته دا کار و سر ته نه وه رسیدی، نو دی بیرته کندهار ته راستون شو، خو وظیفی ته نه ورتی، خو دده په باب سخت اقدامات وه سره او دی مجبور سو چی بیرته کابل ته لاړ سی دا پلو په کابل کی د ملګرو (ویښ ځلمیان) په ملګری ده ته صحی تصدیق نامه ور تهیه کی او په دی بهانه د دی کاره خلاص شو.

په ۱۹۵۰م کی کله چی مرحوم ډاکتر محمودی او مرحوم غبار د کابل څخه وه پارلمان ته کاندیټ شوی وه نو ویښ ځلمیانو هم مرحوم استاد عبدالحی «حبیبی» (چی په دغه وخت کی په چمن کی وکیل تجارو و) په غیاب کی دذوی وه پارلمان ته وټاکی، څرنگه چی په دی وخت کی حبیبی صاحب اقتصادی ستونزه درلوده، د هغه جاړه ئی د ویښ ځلمیانو حزب وکړه.

په ۱۹۵۰م کی د ویښ ځلمیانو تحریک جدی بڼه غوره کړه، او محمد ابراهیم «خواخوری» چی د کندهار په معارف کی مدیر وو، د محمد یونس خان نائب الحکومه په امر گرفتار کړه سو، دا د ویښ ځلمیانو لومړنی گرفتاری

pashtoon.net / pashtun.info September 2017

وه، په دی وخت کی بناغلی مدیر غلام جیلانی خان د خپل رسمی کار څخه استعفی وکړه او د وینې ځلمیانو په هغه هیئت کی چی د خدای پخښلی خواخوږی د خلاصون د پاره کابل ته تله دی هم ورسره وو او دا د داؤد خان سره د لیدو وروسته موفقانه کندهار ته راستون شوه.

حکومت د بناغلی غلام جیلانی خان په کندهار کی اوسیده نه خو ښوله او کوشش ئی کاوه چی د کندهار حزبی غړی سره تیت او پرک کی، چنانچه دی ئی کابل ته د دولتی انحصاراتو د تفتیش د عضو په ډول هلته مقرر کی، مگر په ۱۹۵۲ کی دوی بیرته موافقه تر لاس کړه او کندهار ته راغلی، خو بیرته د حمل په لسمه (۱۹۵۲) کی د عبدالهادی خان تورخی، محمد انور خان اشکزی، قاضی بهرام خان اشکزی، قاضی عبدالصمد خان او حضرت محمد یوسف خان «مجددی» په ګډون غلام جیلانی خان الکوزی هم تحت الحفظ د بندیانو په توګه په لاری کی واچول سوه او مسلح عسکرو په بدرقه کابل ته وړه لیږل شوه، دغو بندیانو څخه یوولس کاله بند وګالی او څخه څلور کاله. بناغلی غلام جیلانی خان څلور کاله او شپږ میاشتی بندی وو، د بند څخه د خلاصیدو وروسته په کال ۱۹۵۷ م کی د کندهار د تجارانو له خوا د یوه نوی «شرکت میوه» په تاسیس کیدو سره د عمومی مدیر په حیث مقرر شو، او په کال ۱۹۶۶ کی ئی ددی شرکت څخه استعفا وکړه. او په همدغه کال د یو شمیر وینې ځلمیانو په شمول د مرحوم میوند وال سره اشنا سو او دده سره ئی په «مترقی دموکراتیک جمیعت» کی ګډون وکی، خو په کال ۱۹۶۹ م لس تنه وینې ځلمیان د مترقی دموکراتیک جمعیت څخه وه وتل نو جیلانی خان هم په

دغو لسو کسو کی شامل وو او بیا په ۱۹۷۷ کی په کندهار کی د پښتون شرکت د «نظار آمر» په توګه مقرر شوی دی.

دده د یوه شخصی لیک په اثر چی محمد علم بخرکی ته ئی لیږلی دی دده تولد په ۱۹۵۹ کی سوی دی.

pashtoon.net / pashtun.info September 2017